مسير
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې نهمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۳۰مه | دویم کال|۳۰۸مه گڼه

پوهنتون

۴ مخ

## د دایکنډي د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې رییس وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې د جیولوژي او معدن، حقوقو او سیاسي علومو او دغه راز د کمپیوټر ساینس پوهنځیو د منظورۍ وړاندیزونه کړي دي.



## افغان سوداگریز توکي د لاجوردو له لارې ترکیې ته ورسېدل



د سوداگرۍ وزارت مرستیال اجمل حمید عبدالرحیمزی وایي، دغه سوداگریز موټر ورمه ورځ ناوخته د ترکیې د ارتیون گمرک ته ورسېدل. هغه زیاته کړه چې ترکیې ته د دغو موټرو د رسېدو په تړاو نن په یاده سیمه کې یو لړ مراسم نیول کېږي چې د دواړو هېوادونو استازي هم پکې گډون کوي.

د دغه وزارت ویاند قوقندي وایي، په دغو موټرو کې ۱۸۸ بېلابېل توکي بار دي چې د افغانستان له تورغونډۍ بندر څخه ترکمنستان، اذربایجان او گرجستان له لارې ترکیې ته رسېدلي دي. له دې لارې په گټې اخیستو افغانستان کولی شي مختلف توکي او تولیدات، لکه د چشت شریف د مرمرو ډبرې، د کندهار انار، د زابل بادام، د هرات زعفران، د کندوز هندوانې، د پکتیا او خوست جلغوزي، د بدخشان لعل او ورته نور توکي اروپا ته صادر کړي.

د لاجوردو له لارې په لومړي ځل صادراتو کې ۱۸۰ ټنه د پنبې تار، ۲۳ ټنه ممیز، ۲۵ ټنه کُنځلې او ۲۶ ټنه د هندوانو زړي شامل دي.

## د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډ پر سر اختلاف؛

# حکومت غواړي ټاکنې درې میاشتې وځنډوي، خو بهرنیان یې شپږ میاشتې ځنډول غواړي




### د سعودي راتلونکې غونډه، مثبت پرمختگ که د ناسمې لارې دوام؟

۲ مخ

### سوله؛ فرصتونه او ننگونې

۲ مخ

### په افغانستان کې؛ څوک د چا میراث دی؟

۳ مخ

## طالبان: دریځ مو پخوانی دی، له افغان حکومت سره خبرې نه کوو

ټاکل شوې راتلونکې اونۍ په سعودي کې د افغان سولې په تړاو ناسته جوړه شي. د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد له لورې رسنیو ته په راستول شوې اعلامیه کې راغلي چې دوی په دې غونډه کې د افغان حکومت له پلاوي سره د خبرو کوم پلان نه لري.

سرچینې وېلي، په ځینو رسنیو کې اوازې خپرې شوې چې گنې په سعودي عربستان کې به طالب استازي د کابل ادارې له استازو سره ناسته کوي، خو دغه اوازې حقیقت نه لري. د کابل له ادارې سره د ناستې په اړه د طالبانو په دریځ کې کوم تغیر نه دی راغلی، بلکې پخوانی دریځ لري. سرچینې زیاته کړې، دوی د یوه قوي او سنجول شوي پلان له مخې له امریکایانو سره د مذاکراتو بهیر پر مخ وړي، څو د افغانستان اشغال پای ته ورسېږي.

په اعلامیه کې وړاندې راغلي، هیله ده چې د مذاکراتو له پروسې سره سطحي چلند ونه شي او نه هم چاته ببځایه هیلې ورکړل شي. د یادونې ده چې د اماراتو تر ناستې وروسته د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد د یادې ناستې خبرې گټورې وبللې او هیله یې وښوده چې ژر به یوې پایلې ته ورسېږي.

## په ښارونو کې مېشت څواکونه به د جگړې کرښو ته استول کېږي



۵ مخ

## رئیس‌جمهور غنی با پادشاه عربستان سعودی در بارۀ روند صلح گفت‌وگو کرد



در آستانه‌ی برگزاری نشستی در باره صلح افغانستان در سعودی، رئیس جمهور غنی، در تماس تلیفونی با پادشاه عربستان، برگزاری این نشست را در راستای تحکیم صلح و ثبات در افغانستان ارزنده خوانده است.

قرار است، دور تازه‌ای از گفت‌وگوهای نماینده‌گان امریکا، افغانستان، امارات متحده عربی، پاکستان، گروه طالبان و عربستان سعودی در باره صلح افغانستان در شهر جده برگزار شود. ریاست جمهوری افغانستان در اعلامیه دیروز (۸جدی) گفته است که آقای غنی در تماس تلیفونی با شاه سلمان بن عبدالعزیز پادشاه عربستان، از نقش عربستان سعودی در روند صلح افغانستان قدردانی کرده است. آقای غنی، در این تماس تلیفونی، برگزاری نشست در باره صلح افغانستان می‌تواند یک آغاز خوب برای مراحل بعدی گفت‌وگوهای صلح افغانستان باشد. در این اعلامیه، به نقل از پادشاه عربستان سعودی نگاشته شده است: «خادم الحرمین الشریفین گفت که عربستان سعودی به پروسۀ صلح به رهبری و مالکیت افغان‌ها باور دارد و در راستای تحکیم صلح و ثبات در افغانستان، به تلاش‌های‌شان ادامه خواهند داد».

در همین حال، شورای عالی صلح افغانستان میگوید که در این نشست قرار است نمایندگان از حکومت افغانستان نیز اشتراک کند.

سید احسان طاهری، سخنگوی شورای عالی صلح، هدف از برگزاری این نشست را زمینه سازی در راستای گفت‌وگوهای مستقیم میان دولت افغانستان و گروه طالبان دانست.

اما طالبان به ارسال خبرنامه به رسانه ها گفت‌وگوها صلح را با حکومت افغانستان رد کرده است.




Heart of Asia Daily
Annual subscription
Individual: 3500AFN
Organizations: 300$

مسير ورځپانه
کلنی گډون
دولتي او شخصي دفترونو ته: ۳۵۰۰؋
بهرنیو سفارتونو او موسسو ته: ۳۰۰$

+93202502100
+93777989696
Heartofasiadaily@gmail.com
Maseerdaily@gmail.com

## دریــځ

## د سعودي راتلونکې غونډه، مثبت پرمختګ که د ناسمې لارې دوام؟

د افغـان سـولې پـه تـړاو د اماراتـو لـه غونـډې وروسـته بلـه غونـډه د سـعودي پـه جـدې ښـار کـې کېـږي. حکومتـي چارواکـي وايـي، دا غونـډه بـه راتلونکـې اونـۍ کېـږي، خـو طالبان وايـي چـې لا د غونـډې وخـت نـه دی ټـاکل شـوی. د سـولې عالي شـورا چارواکو ادعا کړې چـې پـه دې غونـډه کـې بـه طالبـان مخامـخ لـه حکومـت سره خـبرې کـوي او پـه دې چاره موافقـه شـوې، خـو د طالبانـو ویانـد ذبیـح الله مجاهـد بیـا وایـي چـې د دوی دریـځ پخوانـی دی او لـه افغـان حکومـت سره خـبرې نه کوي. پـه دې غونـډه کـې بیـا هـم سـعودي، امـارات، پاکسـتان، امریـکا او طالبـان ګـډون کـوي چې پـه طالـب اسـتازو کـې بـه د قطر د دفتر پر غړو سربېـره، د دوی د رهـبرۍ شـورا غړي هم وي او لـه پاکسـتان څخـه بـه سـعودي تـه ورځـي.

حکومـت بایـد درک کړي چې د سـولې داسـې پروسـه چـې دوی پکـې نـه وي، خـو پاکسـتان پکـې وي؛ د افغانسـتان لپـاره ډېـره خطرناکـه ده. دا اوس یـوازې د امریـکا او طالبانـو مخامـخ خـبرې نـه دي، بلکـې سـعودي او امـارات هـم پکـې ور ګـډ دي. ښـایي د سـعودي او اماراتـو د کوربـه تـوب دلیـل یـاد شي، خـو پاکسـتان پـه کـوم دلیـل پـه دغـو خبرو کـې برخه لـري!؟ حیرانوونکـې ده چـې د افغانسـتان د سـولې او جګـړې پـه تـړاو بحـث کېـږي او ښـایي ځینـې توافقـات وشي، خو نه د افغان حکومت اسـتازی پکـې شـته او نـه هـم له طالبانـو پرتـه د کوم بل افغـاني لـوري او یـا افغـان ولـس اسـتازی. لـه همـدې املـه دا ډول خـبرې اندېښـنې زېـږوي. داسـې نه ښـکاري چې له حکومت سره د خبرو پـه تـړاو دې د طالبانـو دریـځ بـدل شـوی وي، خـو حکومتـي چارواکـي لـه وړانـدې پـه دې تړاو ثرګندونـې کـوي. کـه کومـه موافقـه شـوې هم وي او یـا د طالبانـو پـه دریـځ کـې د بدلون ثرک لیـدل شـوی وي، له وړاندې رسـنیز کول به یې د دې سـبب شي چې طالبـان پر پخواني دریځ ټینـګار وکـړي. کـه څـه هـم ولسـمشر د سـعودي لـه پاچـا سره خـبرې کـړې او هغـه د همـکارۍ ډاډ ورکـړی، خـو روښـانه ده چـې سـعودي پـر طالبانـو داسـې کـوم نفـوذ نه لري چې د دوی د اسـاسي دریـځ د بدلـون لامل دې شي. حکومـت تـه پـکار ده چـې د ناسـمو اوازو د خپرولـو پـر ځای پر داسـې عملي لارو چـارو کار وکړي چې دغو خبرو ته د دوی اسـتازي ور ګډ کړلی شي. لـه بـده مرغـه حکومـت پـه ډېـرو کوچنیـو او بې ارزښـته خـبرو بوخـت دی چـې کـه همداسـې دوام وکـړي، موږ به سـتر زیانونـه وکړو. حکومت بایـد پـه داسـې خبرو جدي اعـتراض وکړي چې بحث د افغانسـتان وي، خو افغانسـتان پکې نه وي. تـر دې بـده یـې لا دا چـې پاکسـتان پکـې وي، خـو افغـان حکومت ته پکـې د ګډون اجازه نـه وي. حکومـت بایـد ودرېـږي، دوی بایـد لـه امریـکا سره پـه چلنـد کـې بدلـون راولي او پـه داسـې مـواردو کـې جـدي اعـتراض وکـړي. لـه امریـکا سره د حکومـت د اړیکـو اوسـنی ډول د افغانسـتان پـر زیـان دی او دا چـاره زمـوږ سـترې ګټـې لـه ګـواښ سره مـخ کـوي. اوسـنی هڅـې نـه د سـولې هڅـې دي او نه سـولې ته د رسـېدو لپاره دا سـمه لاره ده. پر همدې اسـاس حکومـت بایـد د امریکا پـر وړاندې خپله چوپتیا ماتـه کـړي او غـږ پورتـه کـړي.

# سوله؛ فرصتونه او ننګونې



شاه محمود میاخېل
په افغانستان کې د متحده ایالتونو د سولې د انستیتیوت مشر

وروستۍ برخه

### د متخاصمو خـواوو په موقفونو کې څه تغیر لیدل کېږي او که نه؟

د ټولـو خـواوو پـه رسـمي موقفونـو کـې مهـم تغیر لیـدل کېـږي، خـو پـه غیر رسـمي ناسـتو کـې د ټولـو خـواوو موقفونه د رسـمي موقفونـو پـه پرتلـه ډېر زیات نرم او نـرڼدې دي. طالبانو پخوا ویل چې دوی د افغانسـتان لـه حکومـت سره خـبرې نـه کـوي او ویـل بـه یـې چـې ترڅـو چـې یـو بهرنـی عسـکر پـه افغانسـتان کـې وي، دوی خـبرو تـه حـاضر نـه دي او جنـګ تـه بـه دوام ورکـوي. طالبـان اوس وایـي چـې دوی د امریکا د ټولـو ځواکونـو د وتلـو پـر ځـای لـه امریـکا نـه د وتلـو مهالوېـش د امریـکا پـه خوښـه غـواړي او مـوده هـم بایـد امریـکا وټاکـي. البتـه دا مـوده بایـد لـه دوو- دریـو کلونـو زیاتـه نـه وي. طالبانو ویـل چـې د افغانسـتان لـه حکومـت سره هېڅکلـه خبرې نـه کـوي. د طالبانو دلیل دا دی چـې امریکا د دوی پـه انـد، د دوی مـشروع حکومـت لـه منځـه وړی او دوی له امریـکا سره پـه جنـګ کـې دي. د کابـل حکومـت د امریکا په زور رامنځته شـوی او د خـبرو واک نـه لـري. کـه څـه هم طالبان خپـل پخوانـی نظام مـشروع ګڼـي، خو په حقیقـت کې دوی هم قـدرت په زور نیولی و او مشروعیـت یـې پـه هغه وخـت کې هم تر پوښـتنې لانـدې و. اوس طالبـان وایي، کلـه چـې امریـکا د وتلـو مهالوېـش تعیـن کـړ، بیا دوی د افغـان حکومت د پلاوي په ګـډون بین الافغاني ناسـتې ته حاضر دي چـې په نـورو مسـایلو، لکه د افغانسـتان د نظام په ډول، اوربند، د بندیانو په خوشـې کېـدو، لـه تورلېسـت نـه د طالبانو پـر وتلو، لـه نظام سره د طالبانـو په یو ځـای کېدو، د اسـاسي قانـون پـه تغیـر او نـورو مسـایلو بانـدې خـبرې وکـړي.

امریکا کـه څـه هـم لـه طالبانـو سره پخـوا اړیکـې درلـودې او خبرې یـې کولې، ځکه د همدغـو خـبرو او اړیکـو پـه لـړ کـې د قطر دفتـر جـوړ شـو، خـو د رسـمي خـبرو پـه هکله یې ویل چې دوی باید د افغانسـتان لـه حکومـت سره خبرې وکـړي، خو اوس د امریـکا حکومـت دې تـه حـاضر دی چـې لـه طالبانـو سره خـبرې وکـړي، کـه څه هم پـه رسـمي توګـه یـې د خبرو کولـو تایید نه دی کـړی، خـو په غیر رسـمي توګه خبرې روانـې دي او پـه دې وروسـتیو کـې پـه ابوظبي کې د امریکا، طالبانو، پاکسـتان، متحـده اماراتـو، سـعودي عربسـتان او لـه افغـان پـلاوي سره دوې اړخیـزې او څـو اړخیـزې خـبرې یې ښـه بېلګـه ده.

افغـان حکومت هم پخوا ویل چې طالبان دې اسـاسي قانـون ومنـي، اوربنـد دې اعـلان کـړي، سـلاوې دې تسـلیم کـړي، طالبـان دې راشي او د یـو سـیاسي ګوند پـه توګـه د فعالیـت وکـړي، خـو اوس د افغانسـتان حکومـت بې لـه قید او شرطه خبرو ته حـاضر دی، البته په نورو مسـایلو بـه د مذاکراتـو پـه لـړ کـې بحـث کېـږي.

پـه دې توګـه د ټولـو خـواوو پـه رسـمي موقفونـو کـې تغیر راغلـی، خـو سـتونزه د رسـمي مذاکراتـو پـه شروع کېـدو کـې ده چـې څنګـه د کوټـې د ننوتلو دروازه پـر کلـې بانـدې خلاصـه شي. کـه هـره خـوا علنـي یـا پـه یـو اړخیـزه توګـه خپـل موقف علنـي اعلانـوي، پـه حقیقـت کـې مقابـل لـوري تـه نـور هـم امتیـاز ورکـوي، بې لـه دې چـې لـه مقابـل لـوري نه کـوم تعهد او نرمښـت موجـود وي.

### د سولې د موجـوده فرصت پـر وړاندې خنډونـه څه دي؟

لومړی سـتونزه لکـه څنګـه چـې مخکـې یادونـه وشـوه، د رسـمي خـبرو پیـل دی چـې ټولـې خـواوې د خـبرو د پیـل پـر اجنډا توافق وکـړي. کـه هره خـوا د مقابل لـوري د موقـف لـه وضاحـت پرتـه، لږ لـه خپـل موقـف نـه تېرېـږي، پـه حقیقـت کـې ډېـر څـه د خـبرو پـر مهـال لـه لاسـه ورکـوي. پـه ځانګـړې توګه افغـان حکومت او طالبانو ته د سـولې د خبرو پیل د مرګ او ژونـد اهمیت لري. کـه طالبان له امتیاز پرتـه خـبرو تـه کېنـي، پـه حقیقـت کـې د دوی ټولـه مبـارزه نـاروا ښـکاري او د خپلـو صفونـو اعتـماد له لاسـه ورکوي. لـه افغان حکومـت سره خـبرې پـه حقیقـت کـې د افغانسـتان حکومـت پـه رسـمیت پېژنـدل دي. کـه دوی افغـان حکومـت پـه رسـمیت پېژني، نـو د افغانسـتان قوانیـن بـه هم په رسـمیت پېژني. کله یې چې د افغانسـتان قانـون پـه رسـمیت وپېژانـد، پـه دې توګـه د دوی بندیـان سـیاسي نـه، بلکـې ټـول جنایـي دوسـیې لـري او د افغانسـتان د قوانینـو پـه اسـاس بندیـان شـوي دي. بیا د طالبانـو د بندیانـو خلاصـون سـتونزمن دی. کـه د طالبانو بندیان خلاص نه شي، طالبـان نـه شي کولای چـې د بندیانو او د هغـو کسـانو وارثینو ته قناعـت ورکړي چې له دوی سره په مبارزه کې وژل شـوي او یا بندیـان شـوي دي، چـې دا ډول د طالبانو تحریـک د خپلـو پلویانـو پـه منځ کـې اعتبـار لـه لاسـه ورکـوي. د طالبانـو قـوت د کـوم سـیاسي تحریـک په توګـه لا مطرح نـه دی، بلکـې د طالبانـو قـوت یـوازې پـه جنـګ کـې دی.

پـر دغو مسـایلو سربېره، د نـورو موضوعاتو پـه اړه د زیاتـو افغانانو اندېښـنه دا ده چې څنګـه د نظـام ثبـات وسـاتل شي، ټاکنـې او پـه اسـاسي قانـون کـې تعدیـل څنګـه رامنځته شي او د تېرو کلونو لاسـته راوړنې څنګه وسـاتي؟ طالبانو ته د نږدې کسـانو لـه خولـې، د هغـوی پـه موقـف کـې ډېـر زیـات تغیر لیـدل کېـږي. دوی اسلامي امـارات نه غواړي، د همدغه نظام تشـکیل منـي، ټاکنې غـواړي او د بیـان د ازادۍ او د ښځو د حقونو په اړه هم نرموالی ښـیي. د اسـاسي قانـون تعدیـل هـم وروسـته لـه منتخبـې یـا موقتـې اداري د جوړېـدو پـه دوران کـې غـواړي.

د افغـان حکومـت لپـاره هـم دا سـتونزمنه ده چـې دوی پـر داسـې خـبرو توافـق وکـړي چـې دوی یـې برخـه نـه اوسي. کـه دا کار وشي، د افغـان حکومـت مشروعیت لـه پوښـتنې سره مـخ کېـږي او د دوی نـه حضـور او یـا پر موقـت حکومـت توافق، په حقیقـت کـې یـوازې حکومـت نـه، بلکـې ټـول نظام لـه سـتونزو او سـقوط سره مـخ کـوي. د خـبرو پېچلتیـا پـه دې کـې ده، کـه طالبـان غـواړي چـې د ملګـرو ملتونـو لـه تور لېسـت نـه ووځـي، دا د افغانسـتان د حکومـت دنـده ده چـې د ملګـرو ملتونـو اداري تـه وړاندیـز وکـړي. کـه طالبـان لـه افغـان حکومـت سره خـبرو ته تیـار نه وي، نـو څنګـه دوی له تور لېسـت نه د هغوی د ویسـتلو وړاندیـز وکړي. کـه طالبـان غواړي چـې خپـل بندیـان خوشـې کـړي، بیا هم لـه افغـان حکومـت سره خـبرو ته اړتیـا ده، ځکـه د طالبانـو ټول بندیـان لـه امریکایانو سره نـه دي.

امریـکا هـم نه غـواړي چې لـه طالبانو سره داسـې معاملـه وکـړي چـې د افغانسـتان نظام لـه خطـر سره مخ کـړي؛ ځکـه دوی دلتـه لـه یـو ټریلیون ډالرو نـه زیات مصرف کـړی، امنیتـي ځواکونـو او نظام یـو څـه شـکل نیولـی دی. د افغانسـتان د نظام ړنګېـدل د افغانانـو، د سـیمې هېوادونـو او هـم د امریکا پـه ګټـه نـه دی. کـه د افغانسـتان نظام سـقوط کـوي، د امریکا پـه راتلونکـو ټاکنـو کـې جمهوري پلـوه ګونـد کاندیـد نـه شي کـولای چـې خپلـو خلکـو تـه قناعـت ورکـړي چـې دوی ولـې لـه افغانسـتانه بـې لـه کومـې پرېکـړې او ثباتـه ووتـل او یـا پـه اصطـلاح د دوی ټوله خـواري بـه پـه سـیند لاهـو شي، ځکـه د میلیاردونـو ډالـرو مـصرف او د ۲۴۰۰ کسـانو په شاوخوا کې عسکرو وژل کېدل د څـه لپـاره!؟

دا پورتـه هغـه مهـم مسـایل دي چـې د سـولې د خـبرو د پیل کېدو پـر وړاندې یې خنډونـه پیداکـړي دي.

### څه ډول سوله او په کوم قېمت؟

کـه پـه لنډ ډول ووایم، که واقعي سوله په هـر قیمـت وي، بیـا هـم د جنـګ د دوام نه ارزانـه او ښـه ده. لـه عامو افغانانـو سره دا اندېښـنه ده چـې د سـولې خـبرې د جنیوا د تـړون پـه شـان بایـد نـه وي. د جنیـوا پـه خـبرو کـې افغانانـو برخـه نـه درلـوده، نـو ځکـه د افغانانـو پـه سـتونزو خـبرې ونـه شـوې. د جنیـوا د تـړون پـر اسـاس د شـوروي اتحـاد ځواکونـه لـه افغانسـتانه ووتـل، خـو پـه افغانسـتان جنـګ ختـم نـه شـو. اوس هـم پـه افغانسـتان کـې لـه زیاتـو افغانانـو سره دا وېـره ده چې ګونډې لـه طالبانـو سره د امریکایانـو خـبرې بایـد یـوازې د دوی د ځواکونـو د وتلـو پـه خاطر نـه وي، بلکـې د نظام ثبات مهـم دی چې افغانسـتان بیـا د یو بل جنګ لـه پیل سره مخ نـه شي.

پـه هغـه وخـت کـې مـا د امریکا غـږ راډیو د محـلي خبریـال پـه توګـه کار کاوه. زما یادیـږي، کلـه چـې د جنیـوا د تـړون لـه لاسـلیک وروسـته د ملګرو ملتونو د عمومي منـشي ځانګـړی اسـتازی، دیګـو کوردویز (Diego Cordovez) د کچـه ګـړي کمـپ تـه لاړ، څـو د مهاجرینـو اسـتازي د جنیـوا لـه تړونـه خبر کـړي او د کمـپ لـه مشرانو سره مشـوره وکـړي؛ زمـا پـلار، سیدمحمود حـسرت، د کوردویـز لـه خـبرو وروسـته د مهاجرینـو پـه اسـتازیتوب ورتـه وویل چې تاسـې بایـد د جنیـوا د تـړون لـه لاسـلیک د مخـه د مشـورې لپـاره راغـلي وی او زمـوږ نظـر مو غوښـتی وی، اوس سـتاسې راتګ څـه ګټـه نه لري. پـلار مې ورتـه وویل چې د جنیـوا تـړون د افغانانـو سـتونزې نه شي حـل کـولای؛ ځکه نه جنګ په افغانسـتان کـې ختم کېدای شي او نه مهاجرین بېرته خپـل وطن تـه سـتنېدلی شي. کوردویز د دویـم ځـل لپـاره بیـا اوچـت شـو او وویـل دغـه مـشر چـې کومـې خـبرې وکـړې، دا سـمې دي او دغه تړون د افغانانو سـتونزې نـه شي حـل کـولای، خـو کلـه چـې دوی د مجاهدینـو لـه مشرانـو، پاکسـتانیانو او یـا امریکایانـو سره خـبرې کولـې، ټولـو بـه ویـل کـه روسـان لـه افغانسـتانه ووځـي، د افغانسـتان سـتونزې پـه خپله حـل کېږي. پـر دې اسـاس د جنیـوا تـړون د شـوروي اتحـاد د ځواکونـو د وتلو پـه موخه لاسـلیک شـوی دی. د کوردویـز او هـم زمـا د خدای بښـلي پلار خـبره سـمه وه.

د سـولې د خـبرو پـر وړاندې بـل لوی خنډ وخـت دی. د ټاکنـو د اوسـني مهالوېش پـه اسـاس، بایـد ټاکنـې د راتلونکـې اپرېل میاشـتې پـه اخـره کـې وشي. طالبـان وایـي، کـه هـر څـوک منتخـب شي، دا د دې معنـې لـري چـې دوی بـه پنځـه کالـه نـور جنګ تـه دوام ورکـوي؛ ځکه راتلونکی منتخـب جمهـور رییـس بـه بیـا دې تـه حـاضر نـه وي چـې سـوله وکـړي او سـوله بـه د طالبانـو د تسـلیمېدو پر بنیاد غواړي. د تېـرو ټاکنـو د وعـدو پـه اسـاس، دوی پـه یـوه کاندیـد هـم اعتـماد نـه لـري چې هغـوی بـه خپلـې ژمنـې عمـلي کـړي، خو د افغـان حکومـت لپـاره هـم دا سـتونزمنه ده چـې ټاکنـې وځنـډوي، ځکـه د سـولې د پروسـې د پرمختـګ وخت معلـوم نه دی چـې کلـه بـه ټولـې خـواوې پـه مسـتقیمو خـبرو کـې سره توافـق کـوي. طالبـان او افغان سیاسـیون د موقت حکومت خبرې کـوي، خـو د افغـان موجـوده حکومـت مشرتابـه او یـا هغـه نوماندان چـې د ټاکنو لپـاره چمتووالـی لـري، پـه دې عقیده دي چـې ټاکنـې بایـد شـاته وانـه چـول شي او د سـولې خـبرو تـه بایـد دوام ورکړل شي؛ ځکـه کـه ټاکنـې شـاته لوېـږي، د نظام مشروعیـت پـه خپلـه تـر پوښـتنې لانـدې راځـي او دا د نظام پـه ثبات منفي اغېز لـري او یوځل بیا د ۱۹۹۲ز کال په څېر د نظام سـقوط تـه لاره هوارېـږي.

عـام ولس پـه دې هیلـه دی چې کـه د سـولې پـه خـبرو کـې پـه واقعـي او سـمه توګـه د پرمختـګ امـکان وي، کـه ټاکنـې څو میاشـتې شـاته واچـول شي، څه خبره نـه ده، خـو سـتونزه بیـا هـم د دغـه نظام مشروعیـت دی. کـه د موجـوده حکومـت وخـت پـوره کېـږي، هېـڅ قانـوني دلیـل نشـته چې دغه حکومت دې د پارلمان په شـان د لـه خپـل قانوني معیـاد نـه هاخوا پاتـې شي. د موقت حکومـت خـبرې یا د بـن پـه شـان بـل کنفرانس جوړېـدل که له یـوې خـوا د سـولې پـه خاطر منطـق لري، خـو لـه بلې خـوا د موقت حکومـت معنی دا ده چـې افغانسـتان بـه بېرتـه شـاتګ کـوي. لـه بلـه اړخه فکر نه کوم چې نړۍ دې د ۲۰۰۲ ز کال پـه څېر حوصله ولري چې د سـیمې او نړۍ لـوی هېوادونه د بن د کنفرانـس پـه شـان بیـا د بـل کنفرانس حمایـت وکـړي. د داسـې کنفـراس دایرېـدل، د سـیمه ییز او نړیـوال ملاتړ حاصـل هـم زیـات وخـت تـه اړتیـا لري.

د افغانسـتان حکومـت او امریـکا کـه لـه یـوې خـوا د سـولې خـبرو تـه خوشـبینه دي، خـو لـه بلـې خـوا اسـتعجالیت هـم لـري چې په راتلونکو دریو- څلورو میاشـتو کـې د سـولې خبرې او هـم ټاکنې د یو بل پـر ضـد واقع نـه شي، بلکـې دواړو مسـئلو تـه په توافق سره معقولـه لار ولټول شي. د هغه مشـهور متل پر اسـاس چې (نه سـیخ وسـوځي او نـه کباب).

### د سیاسي خبرو د پیل کېدو بندو بست یا (Stalemate) څنګه باید حل شي؟

د دغـه بنـدو بسـت د لـه منځـه وړلـو لپاره یوازینـۍ لار دا ده چـې د سـولې خبرو لویه برخه په نا رسـمي توګه د بندو دروازو ترشـا وشي، څـو د نهایـي تـړون مـتن تیـار شي. پـه دغه نا رسـمي خـبرو کـې ټـول ذیدخله افغـاني خـواوې چـې زیاتـې اندېښـنې لـري، بایـد ګـډون ولـري، څـو د سـولې د خـبرو پـه تړاو د منفي تبلیغاتـو مخه ونیول شي. د نـا رسـمي خـبرو پـه اجنډا کـې ټولـې موضوعاګانـې لکـه د ځواکونـو وتل، د موقتـې اداري جـوړول، د راتلونکي نظام ډول، ټاکنـې، د اسـاسي قانـون تعدیـل، اوربنـد، د بندیانـو خوشـې کېـدل، لـه تور لېسـت نه د طالبانو ایسـتل، امنیت او نور ټـول مسـایل بایـد د خـبرو پـه اجنډا کـې شـامل وي. پـه همـدې ډول د اجنـډا د هـرې موضـوع لپـاره د حل لارې چـارې او د جانبینـو توافـق رامنځتـه شي. کلـه چې پـه غیر رسـمي توګـه د سـولې د تـړون پـه اخـري مـتن هوکـړه وشـوه، بیـا د تـړون د لاسـلیک او د ولـس د اعتماد لپـاره علنـي مجالـس امـکان لـري چـې د تـړون محتوا ټولـو خـواوو تـه پـه افغانسـتان او هـم پـه سـیمه کـې تشریـح او د ټولـو اندېښـنې حـل شي. د تـړون د عمـلي کېـدو لپـاره د منطقـوي هېوادونـو تعهـد او هـم نړیـوال ضمانـت مهـم دی چـې دایمـي ثبـات پـه افغانسـتان کـې رامنځتـه شي. کـه د منطقـوي هېوادونـو تعهـد او نړیـوال ضمانـت نـه وي، پـه افغانسـتان کـې بیـا هـم جنـګ نه ختمېږي او یـوازې د جنګ شـکل او ډول بـه تغیـر وکـړي.

پای

# په افغانستان کې؛ څوک د چا میراث دی؟



محمد اسمعیل یون

ډېر وړاندې ماضي ته نه ځو؛ د خپلې اوسنۍ زمانې پر قضاوتونو قضاوت کوو، په همدې تېر ځلورنیم کلن حکومت غږېږو، هر کار چې د اوسني حکومت په وس پوره نه وي؛ په هغه کې پاتې راشي او یا یې هم په کار کې څرګنده نیمګړتیا احساس شي، نو وایي دا خو د تېر حکومت میراث دی. په همدې یو لنډ او نا معقول ځواب، ټولې خاورې پر تېر حکومت واچوي او په دې ډول خپل ځان له مسوولیته وژغوري. خو که چېرې د همدې حکومت رغښت، جوړښت، واکمنو چارواکو، د کورني حالت څرنګوالي او بهرني ملاتړ ته وګورو، نو له تېر حکومت سره په کې ډېر زیات توپیر نه لیدل کېږي. په تېر حکومت کې هم فساد په څپو و، اوس هم دی، هغه وخت هم جګړه روانه وه، اوس هم روانه ده، هغه وخت هم حکومت ائتلافي و، اوس هم ائتلافي دی، هغه وخت هم حکومت له بهرني ملاتړ پرته خپل ژوند نه شو تضمینولای، اوس یې هم نه شي خوندي کولای، هغه وخت هم ځانساتي، غوړه مالان او د وخت زامن په حکومت کې واکمن وو، اوس هم دي. هغه وخت هم د جنګسالارانو واک او راج چلېده، اوس هم چلېږي، هغه وخت هم زورواکو ولسمشر ته مخامخ کنځلې کولې، اوس یې هم کوي، هغه وخت هم د سنبلې (اتلسمه) په وحشت او دهشت نمانځل کېدله، اوس هم نمانځل کېږي، هماغه څېرې چې همغه وخت په ټلوېزیونونو کې ځلېدلې، اوس هم ځلېږي. ډېر کم کیفي او یو څه ظاهري بدلونونه محسوسېدای شي. کومې څېرې چې د بن تر کنفرانس وروسته پر هېواد واکمنې شوې، د کرزي په لنډمهاله، منځمهاله او دوو انتخابي دورو کې یې امتداد پیدا کړ، له یوې دورې بلې ته لا پسې وغوړېدلې، البته په طبیعي ډول به ځینې عمر خوړلې څېرې د ژوند له مداره وتلې وې، خو همغه فکري او سیاسي جریان چې له همغې ورځې حاکم و، تر نن ورځې په ډېر کم تغیر او توپیر سره دوام لري. زه د هغو اشخاصو له جملې څخه یم چې له لنډمهالې دورې څخه بیا تر ننه پورې د حکومت ټوله اډانه په دقت سره څارم. له همغه پیله او تر دې دمه چې زما په ګډون هر شخص د وخت د ناخوالو پر وړاندې بغاوت کاوه، نو د همغې زمانې واکمنو غوړه مالانو، ځانخوښو به د متعصب، ژبپال، نشنلېست او فاشېست په ګڼو نومونو تورنولو. کله چې د اشرف غني د حکومت بڼه راجوړه شوه، نو موږ فکر کاوه چې ظاهراً د یو تریخ او غوڅ سړي په وجود کې به د کرزي د وخت غوړه مالان وده ونه کړي، ځای به یې رانه‌، ژوړلیدي او زړور خلک ونیسي، خو کله چې دغه حکومت خپل لومړني ګامونه پورته کړل، نو پخواني غوړه مالان هم ګام پر ګام له دې حکومت سره همغږي شول. زه په دغه حکومت کې د نورو ډېرو ترڅنګ یو دوه داسې څرګند غوړه مالان پېژنم چې د ولسمشر کرزي د حاکمیت په وروستیو کې یې په پټه او څرګنده زموږ د هغو ملي مبارزو او مظاهرو مخالفت کاوه چې موږ د ملي هویت د خوندیتابه او ځلا لپاره کولې. دغو خلکو به همدا ویل چې: «تاسې رییس صاحب ته مشکلات جوړوی، دا وخت اوس د دې خبرو نه دی، رییس صیب پرېږدئ چې ملت راټول کړي، اوس د هویت د پورته کېدو وخت نه دی». موږ به یې ماجرا جوا معرفي کولو او خپل ځانونه به یې د وخت پر سیاستونو او رمزونو پوه ګڼل.

کله چې د ملي هویت د خوندیتابه ستونزه د کرزي له حاکمیته د غني حاکمیت ته راورسېده، نو موږ بیا هم لاریونونو ته اړ شولو، غني بیا د ښاغلي کرزي همغو پاتې شونو ښاغلو ته دنده وسپارله چې موږ سره په دې باب وغږېږي. هغوی بیا موږ ته وویل چې «اوس د دې وخت نه دی چې تاسې دا مسئلې راپورته کړی، ملک بحران ته ځي. رییس صاحب نورې ډېرې ستونزې لري، له دې مسئلې څخه تېر شئ او تاسې خو پوهېږی چې دا ځینې ستونزې موږ ته له تېر نظامه په میراث پاتې دي، دا باید همغه وخت حل شوي وای، د تېر نظام مشکلات اوسنی حکومت او رییس صاحب نه شي حل کولای.» دا مهال نو زما حوصله ختمه شوه، ما ویل تاسې نه پوهېږی چې د تېر نظام میراث څه شی دی او څوک دي؟ د تېر نظام میراث خو همدا تاسې یاستئ چې په هغه حکومت کې هم والیان او وزیران وی او اوسني کې هم. دا مشکلات خو هغه وخت کې هم وو، اوس هم دي، هغه وخت هم تاسې چارواکي وی او اوس هم یاست، هغه وخت هم تاسې موږ په بېلابېلو نومونو تورنولو او اوس هم همدا کار کوی، هغه وخت به مو هم ویل چې ((رییس صاحب)) ته جنجال جوړوی او اوس هم وایی چې ((رییس صاحب)) ته جنجال جوړوی. که چېرې د تېر حکومت او یا د کرزي صیب د میراث خبره وي، نو خو ستاسو دواړو په ګډون ډېر د کرزي میراث یاستی، خپله همدا ښاغلی اوسنی جمهور رییس د کوم نظام میراث دی؟ ایا د بن له کنفرانسه رانیولې، بیا تر ننه پورې د همدې حکومت برخه نه وه؟ ایا دی د مرستو د انسجام اداري مشر نه و؟ د مالیې وزیر نه و؟ د کابل پوهنتون رییس نه و؟ د واک د لېږد بهیر مشر نه و؟ چې په دومره واک کې څوک د تېر حکومت میراث نه وي، نو بیا یې نور څوک میراثیان دي؟

ما هغه وخت دغو ښاغلو ته دا خبره هم وکړه، ګورئ چې سبا بل حکومت راځي، هسې نه چې موږ بیا محکومیت کې او تاسې بیا حاکمیت کې اوسی او بیا به مو موږ د تېر حکومت د میراثیانو په توګه د مجرمینو په تور تورن کړي یو، ایا تاسې به موږ ته داسې تضمین راکړی چې پر همدې دوو حکومتونو بسنه وکړی او بل کې شریک نه شی؟

دا مې یوه بېلګه راوړه، اوس ټول حکومت له داسې بېلګو ډک دی، اوس خبره دا کوم چې د اوسني حکومت اصلي جوړښت په سلو کې (نوي) همغه کسان دي چې په تېر حکومت کې راټول وو. واکمن، مداحان، فسادګر او نور همغه د وخت زامن دي چې پرون هم په حاکمیت کې وو، نن هم دي او سبا به هم وي. ډاکټر غني کېدای شي یوازې (لس) سلنه اشخاص چې په هغه کې یو شمېر ځوانان او ځینې هغه اشخاص چې له دې ټولنې څخه لرې او له لوېدیځه راغلي دي، د حکومت پر ځینو مهمو څوکیو ګومارلي وي، نور نو هماغه غر او هماغه کربوړي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې د تېر حکومت میراث خو اوسني حکومت ته پاتې شو، د اوسني به هم سباني ته پاتې شي که نه؟ په خواشینۍ سره باید ووایو چې ځواب یې (هو) دی. هغه څوک چې د وخت پر نبض پوه دي، هغوی د زمانې له باد سره سم چلېږي، د وخت د توپان مخې ته نه ودرېږي، خو هغوی چې د وخت نادودې نه شي زغملی، له هغه سره مقابلې ته وردانګي، یا یې د وخت توپان له ځان سره وړي او یا د توپان مسیر بدلوي، خو د وخت زامن له وخت سره سم زیږېږي، بیا ژوندي کېږي او د وختونو له رنګونو سره خپل رنګ بدلوي او تر موږ ډېر ((هوښیار)) دي.

مـــوره لېونو د زمانې ګرېوان نیولی دی
خلک هوښیاران دي له وختونو سره ځي

ډېر حکومتونه او ډېر نظامونه همدغه ډول اشخاصو له ګړنګه غورځولي. د وروستۍ پایلې په توګه مې وړاندیز دا دی چې د اوسني حکومت د مهمو سیاسي او اداري چارواکو یو اورد لېست باید د رسنیو او زماني حافظې ته وسپارل شي چې دا ډول اشخاص بل حکومت ته د متواتر میراث په توګه په میراث پاتې نه شي، دا په دې مانا چې هغه حکومت به هم دغسې ریشخند کړي، لکه دا دوه تېر حکومتونه چې یې هم وخوړل او هم یې ملامتي پر نورو وربار کړه. هدف دا دی چې د ((غني حکومت)) ((غني میراث)) کوم ((غریب ولسمشر)) ته پاتې نه شي.

## د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډ پر سر اختلاف؛
# حکومت غواړي ټاکنې درې میاشتې وځنډوي، خو بهرنیان یې شپږ میاشتې ځنډول غواړي




ټاکل شوې وه چې د شنبې په ورځ د ټاکنو خپلواک کمېسیون په یوه خبري ناسته کې د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډولو اعلان وکړي، خو د ملي یووالي حکومت او بهرنیو مرستندویانو ترمنځ د ځنډ د مودې پر سر د نظر د اختلاف له امله دغه اعلان ځنډېدلی دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوې سرچینې ویلي، حکومت تر دریو میاشتو پورې د جمهوري ریاست ټاکنو له ځنډولو سره توافق ښودلی، خو امریکایان او نور بهرني مرستندویان غواړي ټاکنې تر شپږو میاشتو وځنډېږي او په کمېسیونونو کې هم اصلاحات او تغیرات رامنځته شي.

دې سرچینې ویلي: «حکومت تر دریو میاشتو د انتخاباتو ځنډولو ته راضي شوی، خو امریکایان او بهرني مرستندویان د سولې پروسې او په کمېسیونونو کې د اصلاحاتو لپاره حد اقل تر شپږ میاشتې د انتخاباتو ځنډېدل غواړي».

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، په کمېسیونونو کې د اصلاحاتو او په ټاکنو کې د ځنډ د مودې مسئله له سیاسي او جهادي مشرانو سره تر بحث لاندې ده او په راتلونکو څو ورځو کې به د ټاکنو د ځنډېدو موده اعلان شي.

د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح الله سادات وویل: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم د اصلاحاتو لړۍ تر لاس لاندې لري، د اصلاحاتو د پلي کېدو لپاره هم وخت ته اړتیا ده. په همدې اساس د ټاکنو خپلواک کمېسیون له سیاسي او جهادي مشرانو سره هم بحثونه پیل کړي دي او انشاالله تر دوو- دریو ورځو پورې به مشخصه شي چې که چېرته دغه ټاکنې ځنډېږي، د څه لپاره ځنډېږي او د څومره وخت لپاره ځنډېږي.»

نړیوال مرستندویان په دې باور دي چې اوسنی کمېسیون په ټاکل شوي وخت د ولسمشرۍ ټاکنې نه شي کولی او د ولسي جرګې د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان وروسته په لږ موده کې په کمېسیونونو کې اصلاحات او تغیرات هم ممکن نه دي.

مرستندویانو دغه راز د راتلونکو ټاکنو لپاره د کمېسیون د بودجې طرحه رد کړې او د ټاکنو لپاره یې له مرستې ورکولو انکار کړی دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرستیال ویاند میرزامحمد حقپرست په دې اړه وویل: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون د بودجې مصوبه برابره کړه او له نړیوالې ټولنې سره یې شریکه کړه چې له بده مرغه د نړیوالې ټولنې له خوا کمېسیون ته مثبت ځواب ونه ویل شو».

بلخوا د ملي امنیت پخواني سلاکار محمدحنیف اتمر په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سازمان له ځانګړې استازي تادامیچي یاماماتو سره په خپل کاري دفتر کې د ولسمشریزو ټاکنو پر روڼتیا، عادلانه والي او د دغو ټاکنو د ځنډېدو پر عواملو بحث او خبرې کړې دي.

ښاغلي اتمر، ټاکنې د ولسواک نظام او د ډیموکراسۍ یو اساسي رکن وباله او ویې ویل، د ټاکنو ځنډېدل به له یوې خوا پر عامه ذهنیت منفي اغېز وکړي او له بل پلوه له سیاسي ګوندونو او جریانونو سره له سلا مشورې پرته د نوي مهالوېش په اړه تصمیم نیونه د منلو وړ نه ده.

نوموړي زیاته کړه، د ټاکنیزو اصلاحاتو د رامنځته کولو په تصمیم نیونه کې باید ټول سیاسي ګوندونه او جریانونه شامل وي، په یو اړخیزه توګه د اصلاحاتو راوستل به په سیاسي جریانونو کې شک او تردید رامنځته کړي.

د چارو شنونکي وایي، متحده ایالتونه غواړي له طالبانو سره د سولې خبرو او موقت حکومت په برخه کې د پرمختګونو په نظر کې نیولو سره، د جمهوري ریاست ټاکنې وځنډېږي او د زلمي خلیلزاد له خوا وړاندیز شوې شپږ میاشتې موده کې له طالبانو سره یوې نتیجې ته ورسېږي.

## د کړکېچ نړیواله ډله: که بهرنیان له افغانستانه په بیړه ووځي، کورنۍ جګړې به ونښلي

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو تر رپوټونو وروسته تازه د کړکېچ نړیواله ډله وایي، له افغانستان څخه په بیړه د بهرنیو ځواکونو وتل به دغه هېواد له کورنۍ جګړې سره مخ کړي.

دې ډلې په خپل یوه رپوټ کې د نړۍ لس کړکېچونه یاد کړي چې په لومړي کې یې د یمن او بیا د افغانستان لانجه ذکر شوې او له افغانستانه په بیړه د امریکایي ځواکونو وتلو ته په اشارې پکې ویل شوي، د امریکایي ځواکونو په بیړه وتل هغه مسئله ده چې نه په افغانستان او نه هم په سیمه کې ملاتړي لري.

په رپوټ کې راغلي، سره له دې چې په کور دننه افغانستان کې ډېری خلک د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتونکي دي، د افغانستان ګاونډیان او په سیمه کې ځینې هېوادونه هم غواړي چې امریکا له افغانستان څخه ووځي، خو دغه وتل باید په بیړه نه وي.

په رپوټ کې وړاندې راغلي: «ګاونډیان او د افغانستان په چارو کې نور ښکېل هېوادونه په ځانګړې توګه ایران، پاکستان، روسیه او چین ټول غواړي چې امریکا بالاخره له افغانستانه ووځي، خو هېڅ یو یې په بیړه د امریکایي ځواکونو د وتلو پلوي نه دي. که امریکا له افغانستان څخه په بیړه ووځي، دغه هېواد به د کورنیو جګړو پر ډګر بدل شي.»

له دې سره د بحران د نړیوالې ډلې په رپوټ کې ویل شوي، چې ۲۰۱۸ ز کال د افغانستان لپاره تر بل هر وخت مرګونی کال و.

د رپوټونو له مخې، په روان کال کې د دغه هېواد په جګړو کې د ملکي وګړو، پوځیانو او مخالفو جنګیالیو په ګډون تر ۴۰ زرو زیات کسان وژل شوي دي.

په دغه رپوټ کې راغلي چې طالبان اوس نیم افغانستان کنټرولوي، نو له دوی سره د سولې د هڅو سربېره واشګټن باید له افغانستان نه په بیړه وتلو او یا د ځواکونو په راکمولو سره په دغه هېواد کې وضعیت نور هم پېچلی نه کړي.




## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دویم څپرکی
### له "ماتې منلو» او «بهانې لټولو» سره مبارزه وکړئ




دربیمه دا چې پرېکړم کوم تر مرګه به خپل ژوند کوم. له دې وروسته پاتې انسان سره د خبرو په لړ کې د خپل یوه ملګري وینا رایاده شوه، دا ملګرى مې وکیل و او د سل (توبرکلوز) ناورغي یې هم لرله. دا ملګرى مې پوهېده چې ژوند باید لنډ و تنګ تېر کړي، خو دا ستونزه یې نه پرېښوده چې د ده د کورني ژوند او وکالت خوند ترې وتروړي. دا سړى چې اوس د اته اویا کالو دى داسې فلسفه لري: (زه وایم تر څو چې مړ نه یم، تر هغې به سم ژوند کوم او ژوند به له مرګ سره نه ګډوم، تر څو چې په دې ځمکه یم، غواړم ژوند وکړم، ولې ځان نیم مړى وګڼم؟ انسان چې کومه لحظه د مرګ په خپګان او اندېښنه کې تېروي، دا هماغه لحظه ده چې په مرګ کې یې هم تېرولاى شي.)

خبرې مې باید په همدې څو جملو ختمې کړې وى، ځکه ځان مې باید په دیتروت کې رواني الوتکې ته رسولاى وى. په الوتکه کې راته بله په زړه پورې تجربه په تمه وه. الوتکه چې والوته د (ټیپک) غږ مې واورېد، وارخطا شوم، خوا کې ناست کس ته مې وویل: غږ له دې خوا دى؟

هغه په خندا شو ویې ویل: هو، لکه چې ووېرېدې چې د ساعتي بم غږ دى؟ خو نه، دا زما د زړه غږ دى!

زه بیخي حیران شوم او د موضوع لامل مې ترې وپوښت. هغه راته وویل: (یوویشت ورځې مې یو سخت عملیات وکړ او په زړه کې یې راته یوه پلاستیکي ټوټه کېښوده، اوس چې تر څو پر دې پلاستیکي ټوټې بیا غوښه راټوکېږي، تر هغې به دا ټیک ټیک غږ کوي.)

ما وپوښت چې دا حالت به نو څنګه ښه شي؟

ویې ویل: پلانونه مې لوى دي، زړه مې دى چې میناسوتا ته له تلو وروسته حقوق ولولم او دولتي وظیفه واخلم، ډاکټرانو ویل چې یو څو ورځې باید پر ځان فشار را نه وړم، له هغې وروسته به بېرته عادي شم.)

اوس له ناروغۍ سره د مخ کېدو دوه بېلې وګورئ. لومړى سړي پر خپلې ناروغۍ ډاډه هم نه و، ستونزه یې تشخیص هم نه وه، خو زړه یې وهلى و، خپه او اندېښمن و، داسې کس یې لټاوه، چې دې نه پرمختګ لپاره د ده دلایل ورسره ومني. خو دویم سړي بیا ډېر سخت عملیات کړى و، له دې سره سره بیا هم هماغسې هیله من او کار ته لېواله و. دا هغه دوه جلا ذهنیتونه وو چې دوو تنو د روغتیا په اړه لرل.

زه خپله هم د روغتیا د بهانې یوه شخصي تجربه لرم. زه د شکر ناروغي لرم. څنګه چې پوه شوم (له پیچکاریو وړاندې) یو کس راته وویل چې د شکر ناروغي بدني ستونزه ده، خو لویه ستونزه هله پېښېږي چې په اړه یې منفي فکر وکړې، که تل ورته اندېښمن وې، خداى مه کړه له لویې ستونزې سره به مخ شې.

طبعاً خپله چې د شکر پر ناروغۍ اخته شوم، د شکر له ډېرو ناروغانو سره مخ شوم. اوس به درته د دوو متضادو مواردو کیسه وکړم. یو کس داسې دى چې د شکر بیخي لږه ناروغي لري، خو بیا یې هم له ځانه ګرځنده مړى جوړ کړى دى. د یخنۍ له وېرې یې ذهن دومره بوخت کړى چې ټول عمر یې ځان د رشخند تر حده پوښلى وي او عفونت دومره وېرولى چې هر څوک پوزه لږه تېزه کش کړي، دى ترې تښتي. زر بې قوته کېږي او له همدې امله کار هم نه شي کولاى. ډېره ذهني انرژي په دې تشویش ضایع کوي چې: (څه به کېږي؟) نورو خلکو ته لګیا وي چې داسې سخته ناروغي لرم، د دې سړي ناروغي شکر نه ده، بلکې بهانې لټول دي. دې سړي ځان پخپله ناروغ کړى دى.

دویم کس بیا د یوه لوى خپرندویه شرکت رئیس دى او ناروغي یې هم شدیده ده. دا سړى د هغه پخواني په پرتله دېرش ځله ډېر انسولین کاروي. خو بیا هم د (ناروغتیا) لپاره ژوند نه کوي، بلکې ژوند د دې لپاره کوي چې کار وکړي او خوند ترې واخلي. یوه ورځ یې راته وویل: (دا شکر ناروغي هم سمه لانجه ده، خیر ... لانجه خو ړیره خرېیل هم دي، خو زه بیا هم د کټ کېږم نه... یوازې کله چې پیچکارۍ وهم، نو ځان سره وایم: د هغه کس دې کور ودان وي چې انسولین یې کشف کړي دي.)

زما یو بل ملګرى په یوه مشهور کالج کې د سپورت روزونکى دى. دى په (۱۹۴۵.ز)کال کې له اروپا راستون شو او یو لاس یې نه و. دا سړى معلول دى، خو بیا هم تل مُسکى وي او له نورو خلکو سره مرسته کوي. زه چې څومره خلک پېژنم، دى پکې تقریباً ډېر ژوند او راتلونکي ته ډېر خوشبین دى. یوه ورځ مو د ده په معلولیت بحث کاوه، راته ویل یې: (یو لاس دومره شى نه دى! البته دوه لاسه تر یوه ښه دي، خو هغوى زما یوازې یو لاس پرې کړى دى، اروا مې روغه او پوره ده او زه په دې حال د زړه له کومي د خداى شکر کاږم.)

یو بل یو لاسى ملګرى مې د ګلف ښه لوبغاړى دى، یوه ورځ مې ورته وویل: خلک په دواړو لاسو لوبه نه شي کولاى، ته په یوه لاس دومره تکړه یې، ځواب یې ډېر جالب و راته ویل یې: (زما تجربو ثابته کړه چې (د یوه لاس سم فکر) د (دواړو لاسو له ناسم فکره) لوبه ګټي. تاسې یوه شېبه په دې خبره فکر وکړئ ... دا خبره نه یوازې په ګلف، بلکې د ژوند په ټولو برخو کې سمه ده.

**دوام لري...**

# د دایکنډي د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـه پـه ۱۳۹۳ لمریـز کال کـې د لـوړو زده کـړو وزارت لـه خـوا منظـوره شـوه چـې رسـمي چـارې یـې پـه ۱۳۹۴ لمریـز کال کـې پیـل او پـه همدغـه کال ورتـه د لـوړو زده کـړو وزارت د کانکـور ازموینـې لـه لارې محصلیـن هـم معرفي شول. د دایکنډي د لـوړو زده کـړو موسسـې رییـس سـید انـور سیرت وایـي، دغـه موسسـه لـه هماغـه لومـړي سره بیـا تـر اوسـه یـوازې دوه پوهنځـې ( کرنـه او ښـوونه او روزنـه) لـري، خـو هڅـه بـه وکـړي چـې د معیارونـو تـر پـوره کولـو وروسـته د نـورو پوهنځیـو د منظـورۍ لپـاره هـم لـوړو زده کـړو وزارت تـه غوښـتنلیکونه وسپاري چـې دا کار یـې لا وار دمخـه کـړى هـم دى.

د دې موسسـې د ښـوونې او روزنـې پوهنځـې دوه ګـډ ډیپارټمنټونـه (ریـاضي- فزیـک او دغـه راز کیمیـا- بیولـوژي) لـري، خـو د کرنـې پوهنځـى بیـا د دوو ځانګـړو ډیپارټمنټونـو (ځنګلونـه او اګرانومـي) درلودونکـى دى. د دې موسسـې رییـس وایـي، د ده پـه راتـګ سره یـې د ښـوونې او روزنـې پوهنځـې دوه ګـډ ډیپارټمنټونـه پـه څلـورو ځانګـړو ډیپارټمنټونـو ووېشـل او د موسسـې د لا پرمختـګ لپـاره یـې خپلـې هڅـې پیـل کـړې دي.

د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـه اوسـمهال ټولټـال ۷۳۸ محصلیـن لـري چـې لـه دې ډلـې ۳۶۴ یـې ښـځینه او ۳۷۴ یـې نارینـه محصلیـن دي. پـه دې موسسـه کـې د تدریـس چـارې د ۲۰ اسـتادانو لـه خـوا مخ تـه وړل کېـږي چـې پـه دې ډلـه کـې یـې یـوازې یـوه ښـځه ده. د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـې رییـس وایـي، ټـول اسـتادان یـې یـوازې د لېسـانس تـر کچـې پـورې لـوړې زده کـړې لـري، خـو پنځـه تنـه یـې اوس تـازه هنـد، مالیزیـا او ایـران تـه د ماسټرۍ کـورس د بشـپړولو لپـاره اسـتولي او د څلـورو نـورو لومـړني کارونـه یـې بشـپړ شـوي چـې ډېـر ژر بـه د ماسټرۍ پـه پروګـرام کـې د ګـډون لپـاره ایـران تـه ولاړ شي. دى وایـي، کېـداى شي پـه دې برخـه کـې د اسـتادانو لـه کمښـت سره مـخ شي، خـو لـه لـوړو زده کـړو وزارت څخـه غـواړي چـې د اسـتادانو او اداري کارکوونکـو پـه زیاتـوالي کـې ورسره مرسـته وکـړي، څـو یـې محصلیـن لـه زده کـړو وروسـته پاتـې نـه شي.

دا چـې د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـه خپلـې اداري او تدریـسي چـارې تـر اوسـه پـورې پـه یـوه کرایـي ودانـۍ کـې مخ تـه وړي، نـو نـه شي کولـى ان یـوازې ۷۰۰ محصلینـو تـه پـر یـو وخـت تدریـس وکـړي، ځکـه د اسـتادانو کمښـت هـم پـه دې برخـه کـې پـر یـوه سـتونزه بـدل شـوى دى.

د لوړو زده کړو د دې موسسـې رییـس سـید انـور سـیرت وایـي، پـه دوو ودانیـو یـې اوس کار پیـل کـړى چـې اتیا سلنه کارونـه یـې بشـپړ شـوي دي او د دوو نـورو ودانیـو تـدارکاتي چـارې یـې روانـې دي چـې د دغـو ودانیـو پـه جوړېـدو سره بـه نـه یـوازې دوى د خپلـو ودانیـو څښـتنان شي، بلکـې د محصلینـو د جـذب وړتیـا بـه یـې هـم لـوړه شي.

د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـې رییـس وایـي، دوى پـه لومـړي سر کـې پـه شـته دوو پوهنځیـو کـې هـر کال یـوازې د ۲۰۰ محصلینـو د جـذب وړتیـا درلـوده، خـو سږ کال د لـوړو زده کـړو وزارت د کانکـور لـه لارې ۳۲۰ تنـه ور معـرفي کـړي چـې لـه دې ډلـې ۲۷۴ تنـو یـې نوملیکنـه کـړې ده او عمـلاً یـې زده کـړې پیـل کـړې دي. د سیرت پـه خـبره، محصلیـن یـې ډېـرى خپلـه د دایکنـډي ولایـت اوسـېدونکي دي، ځکـه د نـورو ولایتونـو محصلیـن زړه نـه ښـه کـوي چـې د دایکنـډي پـه څېـر د پرمختـګ لـه اړخـه پـه یـوه وروسـته پاتـې ولایـت کـې لـوړې زده کـړې وکـړي. سید انـور سیرت وایـي، د لـوړو زده کـړو وزارت د نـوي قانـون لـه مخـې اوس د هېـواد پـه ټولـو پوهنتونونـو او د لـوړو زده کـړو پـه موسسـو کـې د نویـو جـذب شـویو محصلینـو نوملیکنـه انلایـن کېـږي چـې پـر یـو وخـت یـې ټـول معلومـات هـم لـه وزارت او هـم لـه اړونـد پوهنتـون یـا د لـوړو زده کـړو لـه موسسـې سره ثبتېـږي. دا چـې د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـه تـازه تاسـیس شـوې او تـر اوسـه پـورې خپلـې اداري او تدریـسي چـارې پـه کرایـي ودانیـو کـې مختـه وړي، نـو د لیلیـې لپـاره هـم ودانـۍ نـه لـري.

د دې موسسـې رییـس سـید انـور سـیرت وایـي، د نجونـو د لیلیـې لپـاره یـوه ودانـۍ منظـوره شـوې ده چـې چـارې بـه یـې د ښـار جوړونـې وزارت لـه لـوري مخ تـه وړل کېـږي، خـو تـر اوسـه پـورې یـې عملـي چـارې نـه دي پیـل شـوې او تـدارکاتي کارونـه یـې یـو څـه مـخ تـه تللـي. دى وایـي، د هلکانـو د لیلیـې لپـاره بیـا تـر اوسـه نـه ودانـۍ او نـه هـم د لـوړو زده کـړو وزارت لـه لـوري داسـې کـوم ګام پورتـه شـوى چـې لـه مخـې یـې د هلکانـو لپـاره هـم د لیلیـې ودانـۍ جـوړه شي، خـو هڅـه بـه کـوي، څـو ګام پر ګام پـه هـره برخـه کـې پرمختـګ وکـړي.سیرت وایـي، هغـه کسـان چـې د لیلیـې پـه شرایطـو برابـر دي، د لـوړو زده کـړو وزارت لـه خـوا ورتـه پـه میاشـتنۍ ډول ټاکلـې انـدازه پیسـې ورکـول کېـږي او د ځانونـو لپـاره یـې کرایـي کوټـې نیولـې دي.

سید انور سیرت وایـي، یـوې کوچنـۍ خونـې تـه یـې د کتابتـون نـوم ورکـړى چـې یـوازې ۲۵۰ ټوکـه کتابونـه یـې پکـې اېښـي دي. دى وایـي، تـر اوسـه پـورې نـه د لـوړو زده کـړو وزارت او نـه هـم د کومـې بلـې سرچینـې لـه خـوا ورسره د کتابتـون جوړولـو او یـا هـم د کتابونـو پـه راټولولـو کـې مرسـته شـوې ده. نومـوړى وایـي، ښـه ده چـې ووایـم د دایکنـډي د لـوړو زده کـړو موسسـه هېـڅ کتابتـون نـه لـري، ځکـه کتابتـون خپلـې ځانګړنـې لـري، بیـا د یـوه پوهنتـون یـا د لـوړو زده کـړو موسسـې پـه کتابتـون کـې خـو بایـد لـږ تـر لـږه زر ټوکـه کتابونـه موجـود وي.

د دې موسسـې رییـس وایـي، لـوړو زده کـړو وزارت تـه یـې د جیولـوژي او معـدن، حقوقـو او سـیاسي علومـو او دغـه راز د کمپیوټـر سـاینس پوهنځیـو د منظـورۍ وړاندیزونـه کـړي دي، ځکـه دا هغـه پوهنځـي دي چـې پـه دغـه ولایـت او پـه ټولـه کـې د افغانسـتان پـه کچـه ورتـه ډېـره اړتیـا لیـدل کېـږي، خـو تـر اوسـه پـورې یـې د لـوړو زده کـړو وزارت لـه لـوري مثبت ځـواب نـه دى تـر لاسـه کـړى.

کـه پـه ټولـه کـې دایکنـډي ولایـت تـه وکتـل شي، یـو وروسـته پاتـې ولایـت بلـل کېـږي چـې پـه ځانګـړي ډول د بیارغونـې پـه برخـه کـې یـې هېـڅ پرمختـګ نـه دى کـړى. کـه څـه هـم چـې پـه دغـه ولایـت کـې د لـوړو زده کـړو د موسسـې څـو کلونـه تېرېـږي، خـو بیـا هـم تـر اوسـه پـورې ځانګـړې اداري او تدریـسي ودانـۍ نـه لـري، بلکـې پـه کرایـي ودانـۍ کـې خپلـې چـارې مخ تـه وړي. دغـه موسسـه اوسـمهال د اداري، تدریـسي او لیلیـې ودانیـو، جومـات، کتابتـون، لابراتوارونـو او سـپورټي میدانونـو لـه نشـتون سره مـخ ده او دا هغـه څـه دي چـې د یـوه پوهنتـون او یـا د لـوړو زده کـړو موسسـې لپـاره ضروري بلـل کېـږي. د دې موسسـې رییـس وایـي، لـه لـوړو زده کـړو وزارت، مالیـې وزارت، ښـار جوړونـې وزارت، خیریـه موسسـو او پـه ټولـه کـې لـه افغـان حکومـت څخـه غـواړي چـې دایکنـډي ولایـت او د دغـه ولایـت د لـوړو زده کـړو موسسـې تـه جـدي پاملرنـه وکـړي، څـو د دغـه ولایـت خلـک او یـا د دې موسسـې محصلیـن هـم لـه هغـو حقونـو برخمـن شي، کـوم چـې د مرکز او یـا هـم نـورو ولایتونـو اوسـېدونکو تـه ورکـړل شـوي دي.

# اردوغان: د سوريې کردان دا حق نه لري چې د دغه هېواد له حکومته ملاتړ وغواړي



ترکيې د سوريې په شمال کې منبيج ښار ته د دغه هېواد د حکومتي ځواکونو د داخلېدو پر وړاندې توند غبرگون ښودلی دی.

د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان وويل، د سوريې کردان دا حق نه لري چې د دغه هېواد له حکومته ملاتړ وغواړي.

ترکيه د سوريې کرد وسله واله ډله يو ترورېستي سازمان بولي او اردوغان په روانه مياشت کې گواښ کړی و چې د سوريې په شمال کې به د کرد وسله والو پر ضد پراخ پوځي عمليات وکړي.

د روسيې حکومت بيا په منبيج ښار کې د سوريې د حکومتي ځواکونو ځای پر ځای کول مثبت بللي دي .

د کرېملېن وياند ديمتري پېسکوف په يوه بيان کې وويل چې په منبيج کې د سوريې د حکومتي ځواکونه ځای پر ځای کېدل به د سيمې په ثبات کې مرسته وکړي.

د سوريې کرد وسله والو د سوريې له حکومته وغوښتل چې د ترکيې د پوځ د گواښونو پر وړاندې له دوی ملاتړ وکړي او منبيج ښار ته خپل ځواکونه ولېږي.

کردانو دا غوښتنه له سوريې د امريکايي ځواکونو د وتلو تر اعلان وروسته کړې ده.

د کردانو وای پي جي وسله والې ډلې تر دې مخکې پر فرانسې هم غږ کړی و چې د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته دې په سوريه کې خپل پوځي حضور پراخ کړي.

د متحده ايالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د روانې ډسمبر په ۱۹مه اعلان وکړ چې له سوريې ټول امريکايي سرتېري باسي.

په متحده ايالتونو او بهر نړۍ کې د امريکا متحدانو د ولسمشر ټرمپ پر دې پرېکړه سختې نيوکې وکړې او خبرداری يې ورکړ چې دغه گام به په سوريه کې ايران او روسيې ته برې ورکړي.

ايران او روسيه د سوريې په کورنۍ جگړه کې د بشارالاسد له حکومته ملاتړ کوي او ترکيه بيا د هغو وسله والو پلوي کوي چې د اسد د رژيم پر ضد جنگېږي.

په همدې حال کې په لندن کې مېشتې د سوريې د بشري حقونو ډلې ويلي، د سوريې شاوخوا درې سوه سرتېري منبيج ته داخل شوي، خو د دې لپاره چې لا هم دلته امريکايي او فرانسوي ځواکونه شته، د سوريې عسکر د ښار مرکز ته نه دي داخل شوي.

## ولسي جرگه: د سولې په روانه پروسه کې حکومت او خلک څنډې ته شوي



ولسي جرگه وايي، د سولې په روانه پروسه کې خلک او دولت څنډې ته شوي دي.

د دې جرگې مشر عبدالروف ابراهيمي وايي، دولت او خلک د سولې د خبرو اترو اساسي لوري دي او د سولې په هره ناسته کې بايد حضور ولري. نوموړي وويل، د سولې په روانه پروسه کې افغان دولت څنډې ته شوی دی.

د نوموړي په وينا، سوله به د افغان دولت له مشارکت پرته مطلوبه پايله ونه لري. نوموړي وويل: «افغانستان د يو دولت او ملت په توگه څنډې ته شوی. مونږ بيا هم د حکومت رهبري مخاطب کوو چې د سولې په اړه کورنيو اختلافاتو ته د پای ټکی کېږدي، څو مونږ يو واحد دريځ ولرو، ځکه د افغانانو اساسي اړتيا سوله ده.»


د ولسي جرگې د شنبې د ورځې په ناسته کې وکيلانو د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د سولې پر پروسه ټينگار وکړ او ويې ويل چې د افغانستان ملگري هېوادونه بايد په دې برخه کې همکاري وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې تمه ده، د افغان سولې په اړه راتلونکې اونۍ د سعودي عربستان په جده ښار کې ناسته وشي.

د سولې د عالي شورا په خبره، د جدې ناسته د ابوظبۍ د غونډې په دوام ترسره کېږي چې پکې به د افغانستان د سولې لپاره د امريکا متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خليلزاد او د افغانستان، پاکستان، متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان او طالبانو استازي هم گډون کوي.

تر دې وړاندې هم طالب استازو د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ځانگړي استازي زلمي خليلزاد او نورو امريکايي چارواکو، د پاکستان، متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان او د افغان حکومت د يوه پلاوي په گډون د ابوظبۍ په ناسته کې کتلي وو.

## سپينه ماڼۍ: ټرمپ له افغانستان څخه د سرتېرو د ايستلو امر نه دی کړی



د امريکا د ملي امنيت شورا وايي، ولسمشر ټرمپ پنټاگون ته له افغانستان څخه د سرتېرو د وتلو کوم فرمان نه دی ورکړی.

بلومبرگ رسنۍ د امريکا د ملي امنيت شورا وياند گاريټ مارکوېس له خولې ويلي: «ولسمشر تر اوسه دا پرېکړه نه ده کړې چې په افغانستان کې د مېشت امريکايي ځواکونو د وتلو امر ورکړي».

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ رويټرز اژانس او نيويارک ټايمز ورځپاڼې د يوه امريکايي چارواکي له قوله راپور ورکړ چې ولسمشر ټرمپ له افغانستان څخه د ۷ زرو امريکايي سرتېرو پر ايستلو باندې غور کوي چې د نوموړي دغه پرېکړه له سختو نيوکو سره مخ شوه.

د دغه راپور تر خپرېدو وروسته د افغانستان جمهوري رياست وويل چې له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو وتل به پر امنيتي وضعيت کوم تاثير ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امريکا لوی درستيز جوزېف ډانفورډ هم په افغانستان کې له امريکايي ځواکونو سره د ليدنې پرمهال ويلي وو چې په افغانستان کې به د امريکايي سرتېرو ماموريت د پلان پر اساس دوام کوي.


هغه ويلي وو: «مختلفې اوازې شاوخوا خپرېږي، ستاسو ننني ماموريت هغه ماموريت دی چې تاسو پرون لاره».

په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو قوماندان جنرال سکاټ مېلر هم تېره اونۍ سيمه ييزو رسنيو ته ويلي وو چې له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو د وتلو په اړه د امريکا دفاع وزارت امر لا دوی ته نه دی رسېدلی.

د امريکا د دفاع وزارت د معلوماتو له مخې دا مهال ۱۴ زره امريکايي سرتېري په افغانستان کې ماموريت ترسره کوي چې عمده برخه يې د افغان ځواکونو روزل دي.

په افغانستان کې د امريکا په ۱۷ کلنه جگړه کې چې د دغه هېواد د تاريخ تر ټولو اوږده جگړه بلل کېږي، څه د پاسه ۲۴۰۰ امريکايي سرتېري وژل شوي دي.

## اسدالله خالد: په ښارونو کې مېشت ځواکونه به د جگړې کرښو ته استول کېږي



د دفاع سرپرست وزير اسدالله خالد وايي، له دې وروسته به د جگړې بڼه بدلېږي او د ملي اردو سرتېري به له دفاعي حالته راوځي او د وسله والو مخالفينو پر پټنځايونو به بريدونه کوي.

نوموړي چې پرون د خپل کار د پيل په لومړۍ ورځ خبري کولې وويل، د ملي اردو سرتېرو او ځانگړو ځواکونو ډېر پام به عملياتو ته ور اړوي او دوی به حرکت ته هڅوي او له دې وروسته به په ښارونو کې متمرکز ځواکونه د جگړې کرښو ته استول کېږي.

خالد وويل، اوسمهال د ملي اردو ځينې سرتېري، ان کوماندو او ځانگړي ځواکونه د شخصي ساتونکو په توگه بوخت دي.

د امنيتي ځواکونو پر موټرو ځينې شعارونه ليکل شوي چې يو يې «سر ورکوو، سنگر نه ورکوو» دی، خو اوس وخت راغلی چې دا شعار بدل شي. د ده په خبره دا ښيي چې زموږ ځواکونه اوس په دفاعي حالت کې دي.

نوموړي زياته کړه: «وخت راغلی چې دا شعار په احترام سره يو څه بدل کړو، له دې وروسته به سر وهو، سنگر به يې نيسو».

نوموړي دغه راز وويل، د دفاع وزارت کارکوونکي د خپلو ناغېړيو او غفلت د پټولو لپاره پړه پر بهرنيو ځواکونو اچوي.

په ډېری کارونو کې د دغه وزارت د افسرانو تکيه پر بهرنيو ځواکونو په ځانگړې توگه پر امريکايانو ده، حال دا چې د دغه هېواد اصلي مالکان افغانان دي. نوموړی زياتوي: «د دې لپاره چې خپل غفلت او ناکاري پټه کړي، که پوښتنه وکړې چې پلانی کار ولې نه دی شوی، وايي امريکايانو نه دي ويلي يا امريکايانو سره مو تر اوسه خبرې نه دي کړې. بهرني ځواکونه د مشورو او مرستو لپاره دي، د دې ملک اصلي مالک ته يې، ته بايد پرېکړه وکړې.»

په افغان جگړه کې روغتون ته پر وخت د افغان امنيتي ځواکونو د ټپيانو نه لېږد، هغه خبره ده چې وار وار راپورته شوې. د دفاع نوي سرپرست وزير هم تاييد کړې او وايي، په اونيو د ملي اردو ټپي سرتېري په سيمو کې پاتې کېږي او روغتونونو ته پر وخت نه لېږل کېږي. دی وايي: «له هغې راهيسې چې وزارت ته راغلی يم، يوې موضوع ته مې پام شو، له څو ورځو او ان څو اونيو راهيسې زموږ ټپيان د اندړو په ولسوالۍ کې پاتې وو او انتقال شوي نه وو.»

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٤۵ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۰۷۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۵ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

المبارک
توريستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د ميوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

يکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومي نهمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۳۰مه | دويم کال |۳۰۸مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۱۵ | ۲۱ | ۸ | ۲۰ | ۱۶ |
| -۸ | ۳ | ۲ | ۱ | ۳ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښين ۱۱:۵۶ | مازيگر ۰۲:۳۴ | ماښام ۰۴:۵۲ | ماخوستن ۰۶:۲۲

## مشاور امنیت ملی: پس از این میان دشمن خوب و بد تفکیک نخواهد بود



در اوج تلاش‌ها برای صلح در افغانستان، مقام‌های ارشد امنیتی افغانستان بر مبارزۀ جدی در برابر مخالفان مسلح تأکید می‌ورزند.
حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور می‌گوید، با کسانی صلح خواهد شد که از قلب آماده صلح هستند.
آقای محب که دیروز در مراسم معرفی اسدالله خالد به عنوان سرپرست وزارت دفاع ملی، سخن می‌زد، هشدار داد کسانی که جنگ می‌خواهند و برای منافع بیگانه‌گان افغانستان را ویران می‌کنند، جلو شان با تمام نیرو گرفته خواهد شد.
او گفت: «همان گونه که میان هراس افگن خوب و بد تفکیک نمی‌کنیم. پس از این میان دشمن خوب و بد هم تفکیک نخواهد بود؛ کسی که جنگ می‌خواهد، افغانها را می‌کشد، برای منافع بیگانه‌گان، افغانستان را ویران می‌کند یا تهدید می‌آفریند، با تمام توان جلو اش را می‌گیریم».
در همین حال، اسدالله خالد، سرپرست وزارت دفاع ملی می‌گوید که ارتش را از حالت دفاعی بیرون خواهد کشید و از این پس دشمن را در لانه‌های شان نابود خواهند ساخت.
آقای خالد بیان داشت: «پس از این، سر میزنیم و سنگر را می‌گیریم. از این حالت بیرون می‌شویم که در حالت دفاع هستیم. گزارش‌های روزانه را که می‌بینم این گونه است؛ انداخت دشمن – دفاع. پس از این، باید به این فکر کنیم که به لانه‌های دشمن برویم».
حکومت در آستانۀ فصل تازۀ نبرد و در اوج گفت وگوهای کم پیشینۀ صلح، اسدالله خالد و امرالله صالح، دو چهرۀ استخباراتی را در نهادهای امنیتی گماشته است.
حکومت باور دارد که با این تغییر در رهبری این وزارت‌ها در میدان‌های جنگ دست بالاتر داشته باشد.

## نړۍ



# اردوغان: د سوريي کردان دا حق نه لري چې د دغه هېواد له حکومته ملاتړ وغواړي


۳

## سعودي: په حکومتي تشکيل کې وروستي بدلونونه اړتيا وه



سعودي عربستان وايي، په حکومتي تشکيل کې يې وروستي بدلونونه اړتيا وه او په هرو څلورو کلونو کې بايد په کابينه کې بدلونونه راشي.
د سعودي د حکومت دا بيان د هغه څه وضاحت بلل کېږي چې منتقدانو د بحران د وخت مديريت بللی دی.
دا په داسې حال کې ده چې د سعودي عربستان پاچا سلمان بن عبدالعزيز د پنجشنبې په ورځ د هېواد د بهرنيو چارو د وزير په گډون د کابينې ځينې مهم غړي له دندو لرې او پرځای يې نوې څېرې وگومارلې.
کارپوهان وايي، سعودي په مهمو حکومتي پوستونو کې د نويو کسانو په گومارلو سره هڅه کوي چې هغه زيان او ضربه کمه کړي، کومه چې د خبريال جمال خاشقجي د وژل کېدو قضيې د دغه هېواد حکومت ته ورکړې ده.
جمال خاشقجي د تېرې اکتوبر مياشتې په دويمه په استانبول کې د سعودي په کونسلگرۍ کې ووژل شو.
د متحده ايالتونو مرکزي استخباراتو ويلي چې د خاشقجي د وژلو امر د سعودي وليعهد محمد بن سلمان ورکړی و، خو سعودي دا خبره بيا بيا رد کړې او وايي چې خاشقجي د خپلسرو استخباراتي عملياتو په نتيجه کې چې سعودي حکومت ترې خبر نه و، وژل شوی دی.

## د جرمني لومړۍ وزيرې له پوتين سره د اوکراين په اړه ټيليفوني خبرې کړې دي



د جرمني لومړۍ وزيرې انگېلا مېرکل د روسيې له ولسمشر ولاديمير پوتين سره د اوکراين د ختيځ د وضعيت په اړه ټيليفوني خبرې کړې دي.
د جرمني د حکومت وياند اولريک دمير وايي، مېرکل د روسيې له ولسمشر ولاديمير پوتين سره د اوکراين د وضعيت او په کريميا ټاپوزمه کې د وروستي کړکېچ په اړه خبرې وکړې.
د کريميا په ټاپوزمه کې وروسته له هغې وضعيت ترينگلی شو چې روسي ځواکونو په تېره نومبر مياشت کې د تور سمندر په کرچ تنگي کې د اوکراين پر سمندري سرتېرو ډزې وکړې او ۲۴ عسکر يې ونيول. روسيه ادعا کوي چې د اوکراين دا سمندري ځواکونه په غير قانوني ډول د روسيې اوبو ته داخل شوي وو. روسيې په ۲۰۱۴ ز کال کې کريميا ټاپوزمه له خپلې خاورې سره يو ځای کړه.
اوکراين او د نړۍ ډېرو هېوادونو تر اوسه کريميا ټاپوزمه د روسيې د خاورې په توگه په رسميت نه ده پېژندلې.
د جرمني لومړۍ وزيرې دغه راز د فرانسې له ولسمشر ايمانويل مکرون سره هم ټيليفوني خبرې کړې او دواړو مشرانو د اوکراين د ختيځ د اوربند پر موضوع بحث کړی دی.
د اوکراين په ختيځ کې له ۲۰۱۴ ز کال راهيسې د حکومتي ځواکونو او روسي پلوه بېلتون غوښتونکو ترمنځ جگړه روانه ده.
د اوکراين د ختيځ په جگړو کې تر اوسه پورې څه د پاسه لس زره کسان وژل شوي دي.
که څه هم روسيه د اوکراين په کورنيو چارو کې خپله هر ډول لاسوهنه ردوي، خو د جرمونو نړيوالې محکمې په ۲۰۱۶ ز کال کې د دغه هېواد د ختيځ جگړه، د روسيې او اوکراين ترمنځ جنگ وباله.


## ژوند

## د زکام لپاره طبيعي درمل



د ښې روغتيا لپاره مو د هاضمې سيستم روغ وساتئ. کله چې د هاضمې سيستم په سم ډول فعاليت وکړي، نو ډېر هغه غذايي مواد به جذب کړي چې د بدن د روغتيا لپاره ځانگړې ارزښت لري. کله چې د بدن ټول د اړتيا وړ مواد پوره وي، نو بدن د ناروغيو پر وړاندې ښه مقاومت کوي. دلته هغه خواړه در پېژنو چې د زکام په مقابل کې د درمل خاصيت لري او د زکام لپاره تر ټولو چټک او طبيعي درمل گڼل کېږي.
**۱- زنجفيل(Ginger):** په زنجفيل کې شته غوړي د انسان بدن تود ساتي، له بدن سره په خوله کولو کې مرسته کوي او له بدن څخه تبه او زهرجن مواد وباسي. دغه خواړه د ميتابولېزم فعاليت زياتوي. زنجفيل د هاضمې سيستم فعاليت زياتوي او سربېره پر دې د ځيگر او سينې د مختلفو ناروغيو په مخنيوي کې ډېره مرسته کوي.
**۲- هوږه:** په هوږه کې د اليسين (Allicin) په نوم مواد شته چې همدغو موادو هوږې ته د باکتريا ضد خاصيت ورکړی. هوږه د وينې په پاکولو سره د انسان ځيگر هم پاکوي، ځکه چې وينه په دريو دقيقو کې يو ځل ځيگر ته داخلېږي. د وينې د سپينو کروياتو په زياتولو سره د انسان دفاعي سيستم پياوړی کېږي.

## دروغ ويل مو پر روغتيا بد اغېز کوي



لکه څه ډول چې د اسلام په مبارک دين کې هم دروغ ويل گناه ده او دروغجن د خدای دښمن بلل شوی، اوس تازه څېړنو هم ثابته کړې چې دروغ ويل د انسان پر روغتيا ډېر بد اغېز کوي. د المشرق ورځپاڼې د راپور له مخې، د امريکا د روحي او رواني ناروغيو متخصصانو د خپلې کلنۍ ناستې په لړ کې چې په اورلاندو ښار کې جوړه شوه، په ۱۱۰ داوطلبو خلکو په زړه پورې څېړنه وکړه.
د څېړنې پايلو وښوده، هغه کسان چې حتی له مصلحت امېزه دروغو ويلو هم ځان ساتي، د دروغجنو خلکو په پرتله ډېر لږ د سر درد، اضطراب او حتی د ستونې درد په څېر له ډېرو نورو جسمي او روحي ناروغيو څخه شکايت لري .
متخصصانو له څېړنې وروسته په ډاگه کړه، څومره چې مېوې، سابه او سپورت له روغتيا سره مرسته کوي، په هماغه اندازه د خولې کنټرول او له دروغو ځان ساتل د بدن په روغتيا ساتلو کې مهم دي .
دغه متخصصين سپارښتنه کوي چې ټول خلک بايد رښتيا ويلو ته اهميت ورکړي او په خپل ژوند کې ترې کار واخلي. دوی دغه راز وايي، رښتيا ويونکي د دروغجنو په پرتله ډېر پر خپل ځان باور او ډاډ لري.